# د ډرایورۍ لایسنس د ټولو لپاره

## دا څه شی دی؟

د ډرایورۍ لایسنس د ټولو لپاره نوی قانون د 2023 اکتوبر 1 څخه په پیل سره د مینیسوټا ټولو اوسیدونکو ته لاره برابروي چې د ښووني معیاري جواز، د ډرایورۍ لایسنس یا د پیژند معیاري کارت ترلاسه کولو پروسه پیل کړي. دا قانون د پروسې پیل کولو لپاره د امریکا متحده ایالاتو کې د قانوني حضور ثبوت وړاندې کولو اړتیا ختموي.

## تاسې په څه شي پوهیدلو ته اړتیا لرئ

- تاسې به اړ اوسئ د معیاري اسنادو اړتیا لیست څخه د پیژند یو اساسي او یو ثانوي یا دوه د پیژند اساسي اسناد وړاندې کړئ.
- د ډرایورۍ معیاري لایسنس ترلاسه کولو لپاره تاسې باید د D کچې تحریري پوهې ازموینه او د سړک مهارت ازموینه پاس کړئ.
- کوم معلومات چې تاسې په غوښتنلیک کې ورکوئ هغه شخصي ډیټا ده، او DVS نشي کولی دا معلومات د مهاجرت ملکي چارو ادارې سره شریک کړي یا هم هغه ایالتي یا فدرالي ادارو ته دا معلومات ورکړي کوم چې اساساً د مهاجرت قوانین پلي کوي.
- د ډرایورۍ لایسنس د ټولو لپاره قانون په REAL ID، د ډرایورۍ عالي لایسنس یا ID کارتونو، یا د ډرایورۍ سوداګریز لایسنسونو باندې نه پلي کیږي.

## اوس باید څه وکړئ

لاندې ورکړل شوی QR کوډ سکین کړئ ترڅو د ډرایورۍ لایسنس جزوې کاپي ترلاسه کړئ او د تحریري ازموینې لپاره مطالعه وکړئ.

## د ډرایورۍ معیاري لایسنس، جواز یا ID کارت څه شی دی؟




- تاسې کولی شئ د ډرایورۍ معیاري لایسنس په قانوني توګه د موټر چلولو لپاره وکاروئ.
- معیاري جواز، د ډرایورۍ لایسنس یا ID کارت عموماً د هویت یا پیژند ثبوت په توګه منل کیږي غیرلدې که د REAL ID اړین وي.
- ستاسې د ډرایورۍ معیاري لایسنس یا پیژند کارت باندې به د "Not for Federal Identification" (د فدرال هویت پیژندنې لپاره ندی) عبارت لیکل شوی وي ځکه چې دا د REAL ID شرایط نه پوره کوي.
- تاسې کولی شئ خپل معیاري کارت تر 2025 می 7 پورې الوتکو ته پورته کیدو لپاره وکاروئ.
- د 2025 می 7 څخه په پیل سره، الوتکې ته پورته کیدو، نظامي بیسونو ته ورتګ یا ځینې فدرالي تاسیساتو لکه د هستوي بریښنا کارخونو ته ننوتلو لپاره تاسې اړ یې د REAL ID سره مطابقت لرونکی هویت پیژندنې اسناد ولرئ. د REAL ID په اړه د نورو معلوماتو لپاره، drive.mn.gov ته ورشئ.

د ډرایورانو جزوې ته لنک